# تا ته د دوو رڼاګانو زيرى دى چې در کړل شوې، پداسې حال کې ستا څخه وړاندې هيڅ نبي ته نه دې ورکړل شوي: فاتحة الكتاب (فاتحه سورت ) او د البقره سورت وروستي آيتونه دى چې تاته به د دې د هر يو حرف په ويلو سره درکول کيږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي چې: «په داسې حال کې چې جبرائيل عليه السلام د نبي ﷺ سره ناست و چې له پاسه يې يو غږ واورېد، نو سر يې پورته کړ او ويې ويل: دا د اسمان يوه دروازه ده چې نن خلاصه شوه، تر دې مخکې هېڅکله نه وه خلاصه شوې، له هغې څخه يوه پرېښته راکوزه شوه، ويې ويل: دا هغه پرېښته ده چې نن ځمکې ته راکښته شو، تر دې مخکې هېڅکله نه وه راښکته شوې، نو سلام يې وکړ او ويې ويل: تا ته د دوو رڼاګانو زيرى دى چې در کړل شوې، پداسې حال کې ستا څخه وړاندې هيڅ نبي ته نه دې ورکړل شوي: فاتحة الكتاب (فاتحه سورت ) او د البقره سورت وروستي آيتونه دى چې تاته به د دې د هر يو حرف په ويلو سره درکول کيږي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

جبرائيل عليه السلام د نبي ﷺ تر څنګ ناست و، نو له اسمانه يې داسې غږ واورېد لکه د دروازې د پرانيستل کېدو، بيا يې سر پورته کړ او اسمان ته يې وکتل، بيا نبي ﷺ ته يې وويل چې دا د اسمان يوه دروازه ده چې نن پرانيستل شوه، مخکې لدې هېڅکله نه وه پرانيستل شوې. له هغې څخه يوه پرېښته ځمکې ته راکښته شو چې تر دې مخکې هېڅکله نه وه راغلی، هغې پرېښتې په نبي صلی الله عليه وسلم سلام واچاوه او ورته يې وويل: تاته دې د دوو رڼا ګانو زيری مبارک وی، چې تر تا مخکې هېڅ نبي ته نه دي ورکړل شوي؛ هغه دواړه: سورت الفاتحة او بل د سورة البقرې وروستي دوه آيتونه دي. بيا پرېښتې وويل: هېڅوک له دې دواړو څخه يو حرف نه لولي مګر دا چې الله تعالی به پرې ورته هغه خبر دعا او غوښتنه ورکوي چې پدې کې دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5775